
# د لمانځه لارښود



ترتیب "قریب الرحمن(فکرمند)

WathsApp=0093771505593
Telegram=0093771505593

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

1. د ماشومانو لپاره ضروری مسائل
2. د لمانځه تکي په تکي معنی
3. د لمانځه شرطونه
4. د لمانځه رکنونه
5. د لمانځه واجبات
6. د لمانځ سنتونه
7. دلمانځه مستحبات
8. د لمانځه مکروهات
9. د لمانځه مفاسدات
10. د اوداسه فرضونه
11. د لمانځه ماتونکي

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

بسم الله الرحمن الرحيم

## 1. د ماشومانو لپاره ضروری مسائل

خپلو ماشومانو ته مو لاندې ضروري عقائد ور زده کړئ:

داسلام بناوې څو دي ؟

ځواب : پنځه بناوې دي .

د اسلام پنځه بناوې کومې کومې دي ؟

ځواب : هغه پنځه بناوې دادي :

لومړی : کلمهٔ طیبه یا دشهادت کلمه ویل

مانا داچې : په زړه یې منل اوپه ژبه یې اقرار کول .

دوهم : لمونځ کول .

دریيم : درمضان په میاشت کې روژه نیول .

څلورم : زکات ورکول .

پنځم : حج کول .

کلمهٔ طیبه کومه ده اومعنا یې څه ده ؟

ځواب : کلمهٔ طیبه داده :

لااله لاالله محمد رسول الله

او مانا یې داده چې دالله تعالی نه پرته بل هیڅوك عبادت ور نشته او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله پاک رالیږلی رسول دی .

د شهادت کلمه کومه او مانا یې څه ده ؟

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

ځواب : د شهادت کلمه داده :
اشهد انّ لاّ اله الاّالله واشهد انّ محمّداً
عبده ورسوله :
او مانا یي داده چې :
زه شاهدي وایم چې دالله پاک نه پرته د عبادت وړ بل
څوك نشته او زه شاهدي وایم چې حضرت محمد صلی
الله علیه وسلم دالله پاک بنده او رسول دی .

---

دکلمې د مانا اومطلب له پوهېدلو پرته یوازې د ژبې په
اقرار سره سړی مسلمان بلل کیدای شي ؟

ځواب : نه !
بلکې په مانا پوهېدل اوپه زړه یې باور کول اوپه ژبه
یې اقرار کول ضروري دي .

---

په زړه سره باور اوپه ژبه اقرار کولو ته څه وایي ؟

ځواب : ایمان ورته وایي .

---

ګونګی خو په ژبه اقرار نه شي کولای هغه به څه ډول
ایمان راوړي؟

ځواب :
دخدایي عذر له امله دهغه اشاره هم صحي ده، یعنې
داچې : هغه دې په اشاره سره دا وښیي چې الله پاک
یو دی اوحضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خدای
پاک پیغمبر دی .

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

دمسلمانانولپاره په څو خبرو ایمان لرل ضروري دي ؟

ځواب : په اوو ( ٧ ) خبرو ایمان لرل ضروري دي، چې
یادونه یې په ایمان مفصل کې راغلې :
آمَنتُ بِاللهِ وَمَلائكتهِ وَكُتُبِهِ وَرَسُلِهِ وَاليَومِ الآخِر
وَالقَدرَ خَيرِهِ وَشَرِهِ مِنَ اللهِ تَعالى وَالبَعثِ بَعدِ المَوت .
ژباړه :
ایمان مې راوړی په الله جل جلاله باندې په ملائکو یې
او په کتابونو یې او د هغه په رسولانو، او دقیامت په
ورځ، او په دې مې ایمان دی چې د ښه اوبد تقدیر دالله
تعا لی له لوري دی او له مرګ څخه وروسته په ژوندي
کېدو باندې هم .

دالله جل جلاله په اړه دمسلمانانو عقیده باید څه ډول
وي ؟

ځواب :
مسلمانان باید داعقیده ولري چې :
-1 الله جل جلاله یو دی
-2. د عبادت اوبندګۍ وړ یوازې هغه دی اوبل څوک
نشته
-3. سیال اوشریک نه لري
-4. له هر څه خبر دی هیڅ شی ترېنه پټ نه دي
-5. د بشپړ ځواک او طاقت خاوند دی
-6. ځمکه، آسمان، سپوږمۍ، لمر، ستوري، ملائکې،
انسانان، پېریان اولنډه داچې ټوله نړۍ یوازې هغه جل
جلاله پیداکړې ده اوهغه جل جلاله یې څښتن دی .

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

7- مرگ او ژوند د هغه له لوړي دي، يعنې داچې د ټول
مخلوق ژوند اومرګ يې په واك کې دی
8. ټول مخلوق ته الله پاک روزي ورکوي-
9. الله پاک نه څه خوري اونه څه څښي او نه يې-
خوب شته او نه هم ضرورت ورته لري
10. الله ج تل وو اوتل ترتله به وي-
11. الله پاک هیچا پيداکړی نه دی-
12. نه يې پلار شته نه زوی ، نه لور، نه ښځه اونه هم-
له چاسره دغه ډول خپلوي لري ، له دغه ډول خپلوليو
پاك دی
13. هر څوک ورته اړ اومحتاج دي، خو دی چا ته نه-
دی اړ .
14- هیڅ یو شی دده په څیر نه د ی
15. له ټولو عيبونو او نيمګړتياوو پاك دی-
16. د مخلوق په څير لاس، پښې، پوزه او غوږونه نه-
لري
17. ملايکې يې پيداکړي او د دنيا په بېلابېلو-
کارونويې ټاکلې دي
18. خپل مخلوق ته د هدايت او لارښوونې له پاره يې-
خپل استازي ( پیغمبران ) رالیږلي دي، چې خلکو ته
نېغه لار ( دين ) ور وښيي، ښې خبرې ور زده اوله بدو
يې ايسار کړي .

ملائکې ( پريښتې )

ملائکې څوك دي؟

ځواب :
ملائکې دالله پاک ځانګړی مخلوق دی، له نور څخه يې

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

پیدا کړي او موږ یې نه وینو،نه نارینه او نه هم ښځینه دي، نه د خدای پاک له حکمه سرغړونه او نه هم گناه کوي، کوم کارونه یې چې ورسپارلي تل پرې بوختې وي .

ملائکې څومره دي ؟

ځواب :
شمېر یې له خدای پاک پرته بل چاته معلوم نه دی هو ! دومره موږ ته معلومه ده چې ملائکې ډېرې دي او څلور پکې مشهورې دي، او خدای جل جلاله ته نژدې دي .نو ځکه مقربې ملائکې ورته وایي

مقربې اومشهورې ملائکې کومې دي ؟
ځواب:
لومړی :
حضرت جبرائیل علیه السلام چې دالله پاک کتابونه، حکمونه، اوپیغامونه به یې پیغمبرانو ( علیهم السلام ) ته راوړل .

دویم : حضرت اسرافیل علیه السلام چې د قیامت شپیلۍ به پوکي .

درېیم: حضرت میکائیل علیه السلام چې د باد او باران چارې او مخلوق ته د روزي رسولو په کارو ټاکل شوې ده .

څلورم : حضرت عزرائیل علیه السلام چې له مخلوق څخه د ارواحو ( روح ) په اخېستو ټاکل شوې ده .

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

---

د الله پاک کتابونـه

د الله جل جلاله کتابونه څو دي ؟

ځواب :

د الله پاک ۱۰۴ واړه اوغټ کتابونه په خپلو پیغمبرانو ( علیهم السلام ) نازل شویدي، غټو ته یي ( کتابونه ) او وړو ته یې ( صحیفې ) وایي، چې څلور کتابونه یې مشهور دي .

---

څلور مشهور آسماني کتابونه کوم کوم دي ؟ او په کومو پیغمبرانو نازل شویدي ؟

ځواب:

-1: تورات : په حضرت موسی علیه السلام نازل شوی .

-2انجیل : په حضرت عیسی علیه السلام نازل شوی

-3 زبور : په حضرت داؤد علیه السلام نازل شوی .

-4. قرآن کریم : په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی .

---

صحیفې څو دي او په کومو پیغمبرانو نازلې شوېدي؟

ځواب :

د صحیفو شمېره صحي څرګنده نه ده، خو یو روایت کې ۱۰۰ صحیفې راغلې دی،

چې ۱۰ په حضرت آدم علیه السلام

او ۱۰ په حضرت ابراهیم علیه السلام

او ۳۰ په حضرت ادریس علیه السلام

او ۵۰ په حضرت شیث علیه السلام نازلې شوې دي.

---

رسول چاته وایي ؟

ځواب :

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

رسول انسان او د خدای پاک بنده وي، الله پاک خپلو
بندگانو ته د حکمونو رسولو له پاره ټاکلی وي، هغوی
رښتیا ویونکي وي.

## د لمانځه ټکي په ټکي معنی .1

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ:پاکي ده تالره اې الله
وَبحَمْدِكَ:اوتالره ثنا ده
وتَبَارَكَ اسْمُكَ:اوبرکت والا دی نوم ستا
وَتَعَالَى جَدُّكَ:اوچت دی شان ستا
وَلاَ إلَهَ غَيْرُكَ:اونشته دعبادت لایق بې له تا نه
أعُوذُ:پناه غواړم
بِاللّٰهِ :په الله تعالی باندې
مِنَ الشَّيْطَانِ:له شیطان
الرَّجِيم:رټل شوي نه
بِسْمِ اللّٰهِ :شروع کوم په نوم د الله
الرَّحْمَنِ چې عام مهربانه دی
الرَّحِيمِ : چې خاص رحم کوونکی دی
اَلحَمْدُ :ټول صفتونه خاص الله لره دي
رَبِّ الْعَلَمِيْنَ : چې تربيت کوونکی د مخلوقاتو دی
الرَّحْمَنِ : چې عام مهربانه دی
الرَّحِيْمِ : چې خاص رحم کوونکی دی
مَلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ : ملک د ورځې دې قيامت دی ؛
اِيَّاكَ : خاص تا ته
نعْبُدُ :موږعبادت کوو
وَاِيَّاكَ : او خاص تا نه
نَسْتَعيْنُط : مدد غواړو
اِهْدِنَا : برابرکړې موږ
الصِّرَاطَ :په لار
الْمسْتَقِيْمَ : سيخه باندې

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

الْمسْتَقِيْمَ : سيخه باندې
صِرَاطَ الَّذِيْنَ : په لاره د هغه کسانو
اَنْعَمْتَ : چې تا فضل کړی اويا انعام کړی دی
عَلَيْهِمْ : پرهغوی باندې
غَيْرِ : نه لارد هغه کسانو
الْمَغْضُوْبِ : چې غضب کړی شوی
عَلَيْهِمْ : پرهغوی باندې چې يهوديان دي
وَلاَ الضَّاَلِّيْنَ  او نه لار د ګمراهانو
آمين : اې الله زموږ دعا قبوله کړې ؛
قُلْ هُوَاَللّٰهُ اَحَدٌ : ووايه اې پيعمبره هغه الله تعالی يودی
اَللّٰهُ الصَّمَدُ : الله تعالی بې نيازه دی
لَمْ يَلِدْ :د چا پلار نه دی
وَلَمْ يُوْلَدْ : اود چا زوی نه دی
وَلَمْ يَكُنْ لَّه : اونشته الله پاک لره
كُفُوًا : سيال يا برابر
أحَدٌ : هيڅوک
الله اکبر : الله تعالی ډېرلوی دی
سُبْحَانَ : پاکي ده
رَبِّيَ العَظِيْمِ : رب زما لره ، چې  ډير لوی دی
سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ : اوري الله پاک دهغه چا
حَمِدَه : چې صفت يې کوي
رَبَّنَا : اې ربه زمونږ
لَكَ الْحَمْدُ :خاص تالره ثناء ده
اَللّٰهُ اَكْبَرُ : الله تعالی ډېر لوی دی
سُبْحَانَ : پاکي ده
رَبِّيَ الْأَعْلٰى : رب زمالره چې اوچت دی
الله اکبر : الله تعالی ډېرلوی دی
التَّحِيَّاتُ : عبادت کول زما چې دي
اللّٰهِ : الله لره دي

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

وَالصَّلَوٰتُ : اوعبادت بدني زما چې دي
وَالطَّيِّبَاتُ : اوعبادت مالي زما هم الله پاک لره دي
اَلسَّلاَمُ عَلَيْكَ : سلام دې وي په تا باندې
اَيُّهَاالنَّبِيُّ : اې پيغمبره
وَرَحْمَةُ اللّهِ : اورحمت د الله تعالى د وي
وَبَرَكَاتُهُ : اوبركتونه د الله تعالى دې وې په تا باندې
اَلسَّلاَمُ عَلينَا : سلام دې وي په مونږ باندې
وَعَلى عِبَادِاللّهِ : اوپه بنده گانو دالله تعالى
الصَّالِحِيْنَ : چې نيكان دي؛ يعني مسلمانان دي
أَشْهَدُ : زه گواهي وركوم
أَنْ لاَاِلٰهَ : چې نشته لايق دعبادت
إِلاَّاللّهُ : مگر يو الله تعالى دى
وَأَشْهَدُ : اوزه گواهي وركوم ؛
أَنَّ مُحَمَّدًا : چې بيشكه محمد صلى الله عليه وسلم
عَبْدُهُ : بنده دهغه الله تعالى دى
وَرَسُولُهُ : اواستازى دهغه الله تعالى دى
الَّهُمَّ : اې الله جل جلاله!
صَلِّ : ته رحم وكړې
عَلَى مُحَمَّدٍ : په محمد صلى الله عليه وسلم
وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ : اوپه كورنۍ د محمد صلى الله عليه وسلم
كَمَا صَلَّيْتَ : لكه څنكه چې تارحم كړى
عَلَى إبْرَاهِيمَ : په ابراهيم عليه السلام باندې
وَعَلى آلِ إبْرَاهِيمَ :اوپه كورنۍ دابرهيم عليه السلام
إنَّكَ : بيشكه ته
حَمِيدٌ : ستايلى شوى دى
مَجِيدٌ : او د لوړشان والايې
اَللّهُمَّ : اې الله!
رَبَّنَا : زموږ ربه
آتِنَا : راكړې موږ ته

فِي الدَّنْيَا حَسَنَةَ : په دنيا کې نېکی
وَفِي الاَ خِرَةِ حَسَنَةَ :اوپه اخرت کې نيکی
وَقِنَا : او وساتې موږ
عَذَابَ النَّارِ : د اورله عذاب نه

## 1. د لمانځه شرطونه

د لمانځه شرطونه اته دي ۸:
۱: په پاکواوبو اودس کول يا د پاکواوبوپه نشتوالي کې په پاکه خاوره تيمم وهل.
۲: له هرډول مرداري څخه کالي پاکول.
۳: له هرډول مرداري څخه د لمانځه د ځای پاکول.
۴: له هرډول مرداري څخه د بدن پاکول ؛
۵: عورت پټول.
۶: قبلې ته مخامخ کېدل.
۷: د لمانځه نيت کول.
۸: هرلمونځ پر خپل وخت کول.

## 1. د لمانځه رکنونه

د لمانځه رکنونه شپږ دي (۶):
(۱)لومړی تکبير ويل.
(۲) د قدرت په وخت کې په ولاړه لمونځ کول.
(۳) په هرډک رکعت کې د قرآنکريم يو اوږد يا دری لنډ اياتونه ويل.
(۴) رکوع کول.
(۵) سجده کول.
(۶) د التحياتُ په اندازه اخره ناسته يا قاعده کول.

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

## 1. د لمانځه واجبات

د لمانځه واجبات ۷ اووه دي:
۱ : الحمدلله ویل.
۲: له الحمدلله وروسته سورت یانې درې ایاتونه ویل.
۳: د التحیات لوستل په اخېره ناسته کې.
۴: د فرضوپه لومړیو دوو رکعتو کې قرائت لوستل جَهْرُالِاِمَامِ فِيْمَا يُجْهَرُ بِهِ.
۵: خُفیه یا پټ لوستل د قرائت په هغه ځای کې چې پټ لوستل کیږي لکه: ماسپیښن لمونځ.
۶: د دُعائ قنوت لوستل په وتروکې.
۷: په ارامی سره لمونځ کول.

## 1. د لمانځ سنتونه

د لمانځه سنتونه (۱۴) څوارلس دي:
(۱) د لومړی تکبیرلپاره لاسونه پورته کول.
(۲) ترلومړی تکبر وروسته راسته لاس په چپه لاس ایښودل.
(۳) سبحانک اللهم لوستل.
(۴) اعوذ بالله لوستل.
(۵) بسم الله لوستل.
(۶) په کراره امین لوستل.
(۷) سمع الله لوستل (۸)ربنالك الحمد. لوستل.
(۹) تسبیحات د رکوع لوستل.
(۱۰) تسبیحات د سجدی لوستل دي.
(۱۱) لوستل د التحیات په اوله ناسته کې.
(۱۲)د الحمدلله سورت په وروستیو د وور کعتونوکې لوستل.
(۱۳) هغه تکبیرونه چې له لومړني تکبیرڅخه وروسته

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

نورتکبیرونه هم لوستل کېږي.
(۱۴) سلام ویل دي.

## 1. دلمانځه مستحبات

د لمانځه مستحبات ۲۴ څلور ویشت دي:
(۱)کتل د لمونځ کوونکي په ولاړه کې ځای د سُجدې ته.
(۲) کتل د لمونځ کوونکي په رکوع کې خپلوپښوته.
(۳) کتل د لمونځ کوونکي په سُجده کې نرمۍ د پوزې ته.
(۴) کتل د لمونځ کوونکي په ناسته کې خپلې سینې ته.
(۵) د پوره سورت لوستل په هررکعت کې ماسیوا له الحمدلله نه.
(۶) تکبیرد مقتدي په کرارسره بی له کشکولو د همزې نه.
(۷) اېښول دلاسونو پرزنګنونو باندې سره د خلاصولود ګوتو.
(۸) غوړول یعنې برا برول د ملا دې په رکوع کې.
(۹) برابرول د سر دې په رکوع کې له اوږوسره.
(۱۰) پورته کول د سرله سمیع الله سره.
(۱۱) چې کله نیت یانې قصد د سجدې وکړې چې دی کیږدي اول زنګنونه پرځمکه باندې.
(۱۲) چې کېږدي لاسونه خپل په دویم وار پر ځمکه باندې.
(۱۳) ایښودل د پوزې ورسته د لاسونو نه.
(۱۴) ایښودل د تندي په سُجده کې ورسته د پوزې نه.
(۱۵) چې لیرې به ساتي(نس)یا(ګېډه ) له ورنونو خپلو څخه اوښځه به (نس) یا(ګیډه) نښلوي له ورنونوسره په سُجده کې
(۱۶) مخامخ به کړې ګوتې د پښو خپلې قبلې ته.
(۱۷) چې پورته کړي سرخپل په تکبیرسره.

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

(۱۸) تسبیح لوستل په سُجده کې (۳)ځله اویا (۵) اویا (۷)اویا(۹) ځله.
(۱۹) پورته کول د لاسو وروسته د پورته کولو د سرنه دي.
(۲۰) چې کله پورته کړي زنګنونه وروسته د پورته کولود لاسونو نه.
(۲۱) هرکله چې پورته شي دد ویمې سُجدې نه دویم رکعت ته ودې غوړوي چپه پښه او کیني به په چپه پښه.
(۲۲) و د دروي ښی پښه اومخامخ دې کړي په طرف د قبلې یانې سرونه د ګوتو د پښو
(۲۳) ایښودل د لاسونو په ورنونوباندې چې خلاصې وي ګوتې او التحیات به وایئ په زړه کې هم او په ژبه سره هم.
(۲۴) چې هرکله فارغ شي له التحیات څخه نو درود د ووائي په رسول صلی الله علیه وسلم باندې اوبیا دې سلام وګرځوي پرهغه چا باندې چې په ښي طرف کې وي، د سړیونه اوحُفظه
ملائکونه وي او دغسې چپ طرف د هم وګرزوي.

## 1. د لمانځه مکروهات

د لمانځه مکروهات (۱۰) لس دي:
(۱) پیاتي وهل بې لا عذره.
(۲) شمېرل د ایتونو.
(۳) په سجده کې ښنګلې غوړول، د ګیدړې په شانتې.
(۴) چپ او ښی خواته کتل.
(۵) د سترګو پتول بې له عذره، ځکه په دې سره مشابهت راځي د یهود سره.

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

(۶) د شګو اړول د سجدې له ځای څخه، بې له عذره.
(۷) غزېدل په لمانځه کې، چې دا هم مکروه کار دی.
(۸) اوسیلي کول په لمانځه کې لمونځ مکروه کوي.
اول باید خوله بنده کړي اوکه قادرنه وه نو بیا دې لاس په خوله کېږدي، ځکه شیطان د ننه خولې ته ورځي.
(۹) لوېې کول په جامه باندې او یا په لاس باندې اویا په ژبه باندي.
(۱۰) چې ګوښی و دریږي وروسته له صف څخه اوکه په صف کې ځای وي نوباید په صف کې ودریږي او که په صف کې ځای نه وي نوبیا دې په بل صف کې ودریږي.

## 1. د لمانځه مفاسدات

د لمانځه مفسدات (۱۴) څوارلس دي:
(۱)غاړې تازه کول بې له عذره.
(۲) چې پرنچي کوونکي ته په ځواب کې یرحمک الله ووایي.
(۳) فتح ورکول ماسیوا د امام د لمانځه نه.
(۴) کلمه د لا اله الا الله ویل قصد سره، که دې ځواب مقصد یې وې او که چېرې یې مقصد د خبرداری د لمانځه وي، نوبیا لمونځ نه فاسد یږي.
(۵) د عورت لوڅېدل، لمونځ فاسد وي.
(۶) په لمانځه کې ژړا کول له درده څخه او یا له غمه څخه، کچېرې یې ژړا له ویرې څخه وي نو بیا لمونځ نه فاسد وي.
(۷) ځواب ورکول د سلام په لاس سره اویا په ژبه سره داهم لمونځ فاسد وي.
(۸) یا دیدل د قضیائی لمونځ په داسی وخت کې چې له سرې څخه ترتیب یانې شپږ(۶)لمانځونه قضاء شوي نه وي.

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

(۹) عمل کثیرکول برابر خبره ده که په لاس سره وي او
که بغیرله لاسه وي : لکه ژبه.
(۱۰) خبرې کول په قصد سره اویا په هېره سره.
(۱۱) خوارک او څښاک کول په لمانځه کې.
(۱۲) چې په لمانځه کې آه اویا اُوهٔ اوایې.
(۱۳) کټ کټ خندا او کراره خنده لمونځ فاسد وي.
(۱۴) بی هوشي لمونځ فاسد وي او کَانَ عَامِدًا اَوْ سَاهِیًا.

## 1. د اوداسه فرضونه

د اودسه فرضونه (۴) څلور دي:
(۱)دمخ مینځل د شین کیدلو د ویښتانو د سر څخه
لاندې د زنې او له یوغوږتربل غوږ پورې.
(۲) د لاسونو مینځل، د دوارو څنګلو  پورې.
(۳) مسح د سر څلورمه حصه هم فرض ده.
(۴)د پښو مینځل تر ښنګرو پورې فرض دي.

## 1. د لمانځه ماتونکي

د اودسه ماتوونکي (۶) شپږ دي:
(۱)هرشی چې اوزي یوله (دوه۲) لاروڅخه چې یوه د
مخ لاره ده اوبله د شاه لاره ده
اوماسیوا له د دوولاروڅخه لارې او ګرنګ اوهغه شی
چې اوزي له غوږو څخه اویا له سترګوڅخه بې له درده
څخه نو اودس نه ماتوي.
(۲) په ډکه خوله سره (قی )کول هم اودس ما تیږي
(۳) خوب کول هم اودس ماتوي.
(۴) په زوره خندا هم اودس ماتوي چې خاوند د رکوع
او سجدې وي نه د جنازې لمونځ.
(۵) په لمانځه کې لېونتوب هم اود س ماتوي.

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)

(۶) په لمانځه کې بیهوشي کیدل هم اودس ماتوي.

په درنښت

ستاسو ورور قریب الرحمن فکرمند

PDF BY Qarib Rahman Fikrmand

PDF Document Scanner HD (Click here to download this app)